تاریخ: ۲۴/ جمادي الثانية/ ۱٤٤٥ هق
مصادف: ۱۷/جدي/ ۱٤۰۲ هش

متحدالمآل نمبر: ۳۰

عاجل ☐ عادی ☐ اطمینانیه ☐ ابلاغیه ☐ سایر ☐

د افغانستان اسلامي امارت د تمیزونو ، دېوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو قدرمنو منسوبینو ته!

السلام علیکم ورحمت الله وبرکاته

و بعد: د تیري اداري د محاکمو لخوا په بعضي موضوعاتو کې متعددې فیصلې او قرارونه صادر شوي دي چې بعضې يې د مدعي او بعضې يې د مدعی علیه په ګټه دي او دوسیه د تمیز یا تجدید نظر په مرحله کې نقض او مماثلې محکمې ته استول شوي وي چې د مماثلې محکمې لخوا د مدعي د خپلې دوسيې د نه تعقیب په وجه حکم په ترک کړی وي حال دا چې د اسلامي امارت د سترې محکمې د تصویب نمبر (۳۳) مورخ ۱٤٤٤/۸/۲۲هق د څوارلسمې پریکړې مطابق، د ترک خصومت قرار فیصله نه بلل کیږي اوس پوښتنه دا ده: آیا هغه دوسیې چې په تیره اداره کې یې په اړه د فیصلو د نقض څخه وروسته د نه تعقیب په وجه قرار د ترک خصومت صادر شوی وي دغه ترک خصومت د مخکې په شان (چې په ابتدائیه محکمه کې د مدعي د نه تعقیب په وجه د ترک خصومت قرار صادر شوی وي) فیصله نه بلل کیږي او که څرنګه؟

پورته ذکر شوي موضوع د سترې محکمې د عالي شورا په مجلس مورخ ۱٤٤٥/۲/۲۸هق کې مطرح شوه او د تصویب نمبر (٤) د دریمې پریکړې په اساس عالي شورا داسې هدایت وکړ: ((۱ ـ چې د ترک خصومت په وجه د عدم اثبات قرار، د عدم سماع قرار، د رد دعوی قرار او د نه تعقیب په وجه قرار، یوه یوه کاپي دې د سترې محکمې د تدقیق او مطالعاتو عمومي رياست ته واستول شي تر څو د تطبیق او د نه تطبیق صورتونه معلوم کړي او د دغه قرارونو څخه په ترک د خصومت کې کوم یو فیصله ده او کوم یو فیصله نه بلل کیږي.

۲ ـ همدارنګه د تفریق قطعي او نهائي فیصلو د تطبیق او نه تطبیق صورتونه دې معلوم کړي.

۳ ـ په خوله ابلاغ او د ابلاغ په موخه بې ویلو د فیصلې ورکول ابلاغ دی او که نه؟))

د پورته تحریر شوي هدایت مطابق، د سترې محکمې د تدقیق او مطالعاتو عمومي رياست نظر څرګند کړی چې د سترې محکمې د عالي شورا مجلس مورخ ۲٤/ربیع الثاني/۱٤٤٥هق مصادف ۱۷/عقرب/۱٤۰۲هش ته وړاندې شو په اړه یې د تصویب نمبر (۱۰) د څلورمې پریکړې په اساس عالي شورا داسې هدایت وکړ:

((۱ ـ دغه ترک خصومت (چې تر فیصلې وروسته وي) د مخکې په شان (چې د ابتدائیې تر فیصلې مخکې وي) نه دی بلکې د دغه ترک خصومت څخه مخکې صادرې شوې فیصلې، فیصلې بلل کیږي دغه فیصلې منقوضه وي که غیر منقوضه وي فرق نه لري او دغسې موضوعات د تیري اداري د فیصلو د بیا څیړلو اختصاصي محکمو مربوط دي، اختصاصي محکمه دې د تیري



Address: Public health Square 9th District, Kabul-Af
Phone: ۰۲۰۲۳۰۰۰۹۲
Post box: ۱۹۸۹
Email: darulinsha@gmail.com
Website: www.supremecourt.gov.af

پته: د صحت عامې څلور لارې، نهمه ناحیه ، کابل- افغانستان
د معاونیت تیلفون : ۰۲۰۲۳۰۰۰۹۲
پست بکس : ۱۹۸۹
ایمیل: darulinsha@gmail.com
ویب سایت: www.supremecourt.gov.af

اداري فيصلې وګوري او د تيري اداري د لوړې محکمې نقضونه دې په نظر کې ونيسي که شرعي مشکل يې نه درلودی د ستري محکمې د دارالانشاء عمومي رياست د متحدالمآل نمبر (۱۳) مورخ ۱۴۴۴/۲/۱۰هق مل طرزالعمل مطابق دې د تيري اداري د محاکمو لخوا شوې فيصله يا فيصلې تائيد کړي او که د تيري اداري فيصلو شرعي مشکل درلودی د ياد متحدالمآل مطابق دې اختصاصي محکمه خپله شرعي فيصله صادره کړي.

۲ ـ د تيري اداري د قاضي لخوا که د څلورو مذاهبو څخه د يوه مذهب مطابق په يوه موضوع کې د تفريق حکم شوی وي دغه د تفريق فيصله چې د تيري اداري د محکمې لخوا ابلاغ شوي وي دغه ابلاغ تطبيق بلل کيږي او که د تفريق ياده فيصله د څلور مذاهبو څخه د يوه مذهب مطابق هم نه وه بيا د تفريق دغه فيصله تطبيق نه بلل کيږي.

همدارنګه د ستري محکمې د تدقيق او مطالعاتو عمومي رياست نظر مطابق، تطبيق ته يوازې په هغه صورت کې ضرورت شته چې په اصل مدعی بها کې انتقال راځي، په قضاء ترک او هر هغه قضاء کې چې اصل مدعی بها د ذواليد په لاس کې پاته کيږي تطبيق ته اړتيا نشته او ياد حکم يوازې منازعه او مخاصمه پای ته رسوي.

او بل د حکم لپاره ضروري ده چې په قول سره به وي، يوازې جانبينو ته د فيصلې د اوراقو ورکول حکم نه دی او فعلي حکم هم نه بلل کيږي.))

بناءً د ستري محکمې د عالي شورا پورته تحرير شوی هدايت ددې متحدالمآل په توسط د افغانستان اسلامي امارت د ستري محکمې مربوط رياستونو، تميزونو، ديوانونو، مرافعه او ابتدائيه محکمو ته واستول شو تر څو د هغه مطابق اصولي اجراآت تر سره شي.

په درنښت

۲۴/۲/۱۴۴۵ هق

مفتي عبدالرشيد "سعيد"

د ستري محکمې

د دارالانشاء عمومي رئيس

ستره محکمه
رياست عمومی دارالانشاء

Address: Public health Square 9th District, Kabul-Af
Phone: ۰۲۰۲۳۰۰۰۹۲
Post box: ۱۹۸۹
Email: darulinsha@gmail.com
Website: www.supremecourt.gov.af

پته: د صحت عامې څلور لارې، نهمه ناحيه، کابل- افغانستان
د معاونيت تيلفون : ۰۲۰۲۳۰۰۰۹۲
پست بکس : ۱۹۸۹
ايميل: darulinsha@gmail.com
ويب سايت: www.supremecourt.gov.af